اجمل عالم زی

کابل، ۲۰۱۳/۰۳/۱۹

# د امریکا پر وړاندې د ولسمشر حامد کرزي دريځ ولې بدل شوی؟

ولسمشر کرزي په دې نږدې يوه اوونۍ کې درې ځلې مطبوعاتو ته را څرګند شو او په پرله پسې توګه يې پر خپلو غربي متحدينو او خصوصآ امريکا باندې تورونه ولګول او کلکه نيوکې پرې وکړې. نوموړي په خپلو ويناو کې ويلي امريکا او طالبان د خپلو ګټو لپاره جګړه روانه ساتي. دی زياتوي که څه هم امريکا او طالبان له يو بل سره د دښمنۍ دعوه کوي، خو په پټه يې لاس يو کړی او د يو بل په ګټه په افغانستان کې خپلې جګړې ته ادامه ورکوي. حامد کرزي د طالبانو بريدونه په کلکه وغندل او د دوی دغه بريدونه يې د افغان ولس پر ضد خو د امريکا په ګټه وبلل.

نوموړی زياتوي امريکا او طالبان په ښکاره يو له بل سره جګړه کوي، خو د پردې تر شا د ده په خبره هره ورځ په خليجي او لوېديزو هيوادونو کې له يو بل سره خبرې کوي. ده زياته کړه، چې طالبان د خپلو بريدونو پرمټ په افغانستان کې د نړيوالو شتون ته زمينه برابروي. ده وويل، امريکا طالبان خپل دښمنان نه ګڼي، خو له دوی سره د جګړې په نامه هره ورځ ولسي افغانان ځوروي.

ډيری کار پوهان په دی باور دي، چې په يوه اوونۍ کې د ولسمشر درې ځلې مطبوعاتو ته را څرګنديدل او په پرله پسی توګه په خپلو غربی متحدينو خصوصآ امريکا باند کلکې نيوکې او تورونه د افغانستان په اوسنی شرايطوکې غير عادی کار دی. دوی وايې د ولسمشر دا څرګندونی د دواړو هيوادونو په ستراتيژيکو روابطو منفي اغيز کوي. نظامی کارپوهان په دی باور دي چې دا ډول څرګندونې د يو ولسمشر لخوا د افغان ځواکونو په روحيه او تصميم ناوړه اغيزه کوي او په دې توګه د افغان او نړيوالو ځواکونو ترمنځ د بې اعتمادۍ فضا ته لمن وهي. دوی وايي چې دا هم د عامه اولس په اذهانو خپل منفي تاثيرات پريږدی او هم په طالبانو باندې بې تاثيره نه دي. دوی وايي چې ولسمشر بايد مخکې تر دې چې څرګندونې وکړي د هيواد اوسنۍ شرايطو ته په کتو بايد په خپلو خبرو کې له حد څخه زيات پام ولري.

**ګواښونه**

ولسمشر د دا ډول څرګندونو ترڅنګ ګواښونه هم کړي دي. نوموړي په هلمند ولايت کې په خپله وينا کې ويلي) که د بګرام زندان افغان لوري ته ونه سپارل شي نو افغانان به يې ځواب کړي. (دا لومړی ځل نه دی چې ولسمشر دا ډول ګواښونه کوي، بلکې تر دې مخکې يې هم نړيوالو او خصوصآ امريکا ته ګواښونه او ضرب العجلونه ټاکلی دي. د مثال په توګه څه وخت وړاندی يې وويل چې د دوه اوونيو په ترڅ کې بايد د امريکا ځانګړی ځواکونه د ميدان وردګو له ولايت څخه ووځي (او يا څه موده وړاندې ويلي وه) که چيرته ناتو خپل هوايي بريدونه بند نه کړي نو افغانان به فکر وکړي چې د دوی هيواد اشغال شوی دی او افغانان پوهيږي چې له اشغال ګروسره څه وکړي.
هر بار چې نوموړی دا ډول امرونه او څرګندونې کړي دي نه دا چې په ځای شوي نه دي بلکې عکس برخورد ورسره شوی دی. کارپوهان وايي د ولسمشر دا ډول خبرې بندی طرح ته پاتې کيږي چې بيا وروسته د تيښتې لارنه وي. دوی وايي په داسی حال کې چې ولسمشر ښه پر دی پوهيږی چې نړيوال ځواکونه د ملګروملتونو د امنيت شورا په پريکړه دې هيواد ته راغلي او دا د ملګروملتونو د امنيت شورا پريکړه وه چې اوسنی نظام او حکومت په افغانستان کې په پښو ولاړ دي نه د ولسمشر کرزی پريکړه. په داسی يو حالت کې په دې ځواکونو د امر او ګواښ حق يوازې د ملګرو ملتونو امنيت شورا لری نه کوم بل څوک. که داسې وای پاکستان څو ځلی په ملګرو ملتونو کې د ناټو له هوايي او بې پيلوټه الوتکو له بمباری څخه چې په شمالي او جنوبي وزيرستان کې کيږی نيوکې وکړی خو چا يې خبرې ته غوږ کينه ښود. باوجود د دې چې ولسمشر په دې هر څه ښه پوهيږي نو بيا ولی دا ډول څرګندونې، ګواښونه او ضرب العجلونه ټاکې؟

**علتونه**

يوشمير کارپوهان پر دی باوردي چې ولسمشر کرزی مجبوره شوی مخامخ خبرو يی له نړيوالو سره نتيجه نه ده ورکړې اوس غواړي د مطبوعاتي فشار له لاری خپلې غوښتنی په امريکا ومني او کوشش کوي چې هغوی تر خوږ


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

ګوتې ونيسي. دوی وايي ولسمشرکرزی او د امريکا د افغانستان په راتلونکو ټاکنو دعوه ده. امريکا د رڼو شفافو ټاکنو پلوي کوي مګر ولسمشر د خپلو طرفدارانو او ټيم حق په راتلونکو ولسمشريزو ټاکنو کې غواړي. دوی په دې چنه وهلو جوړ نه دي راغلي نو په همدې خاطر ولسمشر کرزی غواړي په دوی فشار را ولي. يوشمير نور بيا په دی باور دي چې قضيه تر دې بتره ده او هغه په دی مانا چې په داخل د ارګ کې او د ولسمشر شاوخوا ته يوشمير د پاکستان او ايران جاسوسان ناست دي او هغوی د خپلو بادارانو خبری مني. هغوی ته د افغانستان په پرتله د هغو ملکونو منافع ډير اهميت لري، چې دوی ورته کار کوی او هر وخت د ولسمشر کرزی ذهنيت د يوې منظمی برنامې او پروګرام له مخی ور اړوي. يو شمير نور بيا پر دی باور دي، چې ولسمشر کرزی غواړي په خپل وروستي کال کې هيوادوالو ته ځان يو وطن پرست او په وطن مين انسان وښيي، تر څو په تاريخ کې د همدی له مخی قضاوت وشی چې ما خو ويلي خو چا نه منله او لکه ډاکتر نجيب چې په خپل اخير وخت کې څرګندوني او وړاندويني کولې او بيا ورسته هرڅه همغه ډول وشول نو په خلکو کې محبوبيت پيدا کړی. کار پوهان وايي که چيرته ولسمشر په همدی فکر کې وي نو دا دواړه قضی ډير تفاوت لری په هغه وخت کې که ډاکتر نجيب په دی محبوبيت پيدا کړی چې د هيواد له وضعيت او د بهرنيانو له نيت څخه ښه برداشت درلود او وړاندوينی سمې وختې او نوموړی پری د محبوبيت کچې ته ورسيد، خو په اوسني شرايطو کې د امريکايانو او نړيوالی ټولنی په غندلو يې ولسمشر کرزی نشی پيدا کولای له دی پرته چې دا هيواد نور هم د بدبختی کندی ته ور ټيل وهي. که چيرته ولسمشر کرزی غواړي چې د يو مشر په صفت يې تل درناوی وشي او خلک يې په نيک نامه ياد کړي ښه کار دا دی چې د افغانستان را تلونکې ټاکنی شفافی، له درغليو او د نوموړی د ټيم له مداخلی پرته په يوه سوليزه فضا کې وشي او د کرزي له حکومت څخه وروسته د افغانستان ثبات، امنيت او ولسواکۍ ته کوم ضرر ونه رسيږي دا به دده لپاره يو لوی شهرت اوښه نوم وي. کارپوهان وايي، که د کابل چارواکي په افغانستان کې د لويديځ پر قربانيو او پر ميلياردونو ډالرو لګښتونو سترګې پټې کړي او خپلو بې ځايه نيوکو ته دوام ورکړي، نو امکان شته، چې غرب يو ځل بيا افغانستان ته شا کړي او د نوييمې لسيزې په څير يې يوازې پريږدي.

په داسې حال کې چې لويديزو رسنيو هم ليکلي، چې د ولسمشر وروستيو سختو نيوکو د کابل او واشنګټن ترمنځ پر امنيتي تړون سيوری غوړولی، شنونکي وايي که ارګ له سپيني ماڼۍ سره له ټاکنو پرته پر نورو ټکو اختلافات لري، نو ښه به دا وي، چې دغه اختلافات د رسنيو له لارې د يو بل پر خلاف د تورونو او نيوکو پر ځای د بندو دروازو تر شا له ديپلوماتيکو لارو او د خبرو اترو په وسيله حل کړي. دوی وايي ګاونډيان همدې ته په تمه دي، چې بهرنيان له افغانستان څخه ووځي، او دوی ته يو ځل بيا په خلاص لاس د خپلو ګټو او د مرکزي حکومت د کمزوري کولو په موخه په افغانستان کې له ډلو ټپلو سره د اړيکو زمينه مساعده شي.

پای


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ